# ډاکټر محمد اعظم اعظم: د نوې شاعرۍ د روایت پاسدار شاعر

محمدصادق ژړک، ډاکټر نورمحمد دانش بیټنی

**Abstract**

This article has been written to recall the literary services of Late Dr. Muhammad Azam Azam. He will be remembered for ever as far as his contributions in the field of Pashto Language and Literature are concerned.

مونږ چې کله د پښتو د نوي شاعرۍ خبره کوؤ نو د پښتو تر اولسي شاعرانو را وروسته د فخر افغان باچا خان او د هغهٔ د ملګرو راپیل شوي اصلاحي ، سیاسي ، قامي ، صحافتي او ادبي غورځنګ ته زمونږ سترګې ور اوړي ـ هغه ځکه چې تردې غورځنګ وړاندې د پښتو زیاتره شاعري یا خو د کلاسیکو شاعرانو پر پله روانه وه او یا وربانديې د اولسي شاعرۍ رنګ پروت وو خو کله چې د پښتون قامي غورځنګ بنسټ کېښول شو، نو ددې غورځنګ په برکت پښتو مشاعرې عام شوې او په دې مشاعرو کښې به د ځوانانو په ښهٔ توګه روزنه کېدله هغه ځکه چې هم دغه دور نوي تعلیم یافته ځوانان ادیبان او شاعران راپېدا کړل او هغوي د پښتو شاعرۍ په نوې بڼه سینګاربدل پیل کړهٔ ـ د پښتو شاعرۍ په ښکلا او ځلا کښې په نوي نوي انداز کار واخیستل شو په لومړي ځل پښتو شاعري له کلاسیک او اولسي انداز څخه را وایستله ، په دې دور کښې راحت زاخیلي ، فضل محمود مخفي ، عبدالاکبر خان اکبر ، محمد اکبر خادم ، عبدالمالک فدا ، محمد اسلم خان کمالي ، فضل اکبر بېنوم ، تورسم خان کاکا ، میاازاد ګل ، صاحبزاده محمد ادریس ، عبدالخالق خلیق ، فضل رحیم ساقي او یو شمېر نور شاعران چې د لومړي قطار شاعران دي ـ تر دوي را وروسته په همدې دور کښې سمندر خان سمندر ، فضل حق شېدا ، سید رسول رسا ، حمزه شنواري ، غني خان ، اجمل خټک ، سیف الرحمان سلیم او همېش خلیل او نور دي چې پښتو شاعرۍ ته ئي بېخي نوے رنګ ورکړو ـ او تردوي را وروسته چې بیا کوم شاعران په اوسنۍ خېبر پښتونخوا

کښې راځرګند شول په هغوي کښې يو نوم د ارواښاد ډاکټر محمد اعظم اعظم صاحب دے چې ډېر د قدر وړ نوم دے ـ چې د خپل قلم په برکت ئې د پښتو د نثر او نظم په ډګر کښې يو داسې کردار ادا کړو چې په ټوله لره او بره پښتونخوا کښې ډېر زيات مشهور شو ـ د ډاکټر اعظم اعظم صاحب په باب ښاغلې خور پروفېسر ډاکټر سلمٰی شاهين ليکي :-

> ډاکټر محمد اعظم اعظم چې په پښتو ادب کښې د غزل او زړۀ راښکونکي انداز له کبله هم او د هنرمند ډرامه نګار او محقق په حېث خپله پېژندګلو لري ـ د ښۀ نظم ګو شاعر په حېث هم د چا نه وروستو نۀ دے [1]

مونږ که د ډاکټر اعظم صاحب شاعري ګورو نو په رښتيا هم هغۀ چې کومه شاعري کړې هغه به د پښتو په شعري دبستان کښې يو ښکاره حېثيت لري ـ ددۀ شاعري د ستائيلو وړ ده خو د ښاغلي حنيف خليل په څېر نه لکه چې ليکي :-

> د شاعر په حېث د اعظم صېب غزل چې د تغزل معنويت ، ترنم او ژبې د سپېځلتيا کوم رنګ او اهنګ لري د هغې ابتداء هم اعظم صېب کړې ده او انتها هم د دوئي په برخه ده[2]

خو که مونږ د حقيقت پسندئ لور ته مخه کړو نو بيا خبره داسې نۀ ده هغه وخت به حنيف خليل دغه بې بنياده خبره ځکه کړې وي ولې چې هغه اکېډميک سړے دے او د اکېډميک خلقو خپلې مجبوريانې وي چې له چا څخه په څۀ ډول کار واخستل شي ـ زمونږ ځينې ليکوالان ورونه په همدې ډول له ډېرو خلقو څخه ځانونه ورک کړي او دغه بې ځايه ستائنې د لوستونکو د بې لارئ سبب شي لکه زبېر حسرت چې بيا ورته د پښتو شعري دنيا شاعر اعظم وائي[3] ـ

همدا وجه ده چې پښتو ادب ئې له ډېرو ستونزو سره مخ کړے دے ـ مونږ ددې دور خلق که خپل ادب له بې بنياده ستائنو او صفتونو څخه پاک نۀ کړو نو تاريخ به مونږ هېڅکله ونۀ بخښي لکه دلته چې حنيف خليل وائي چې د پښتو د تغزل معنويت ، ترنم او سپېځلتيا ابتداء او انتها د دوئي په برخه ده ـ که چيرې د حنيف خليل خبره ريښتينې وي نو بيا به حمزه شنواري ، صديق پسرلي ، عبدالرؤف زاهد او صاحبزاده فيضي ، تغزل ، د اندېش شمس القمر او اکرام الله ګران سوچه ژبه به مونږ په کومه کهاته کښې اچوؤ او که چيرې د ملګري زبېر حسرت خبره شي چې د پښتو شعري نړئ شاعر اعظم دے ـ نو بيا به خوشحال خان خټک ته کوم مقام ورکوو ـ اوس راځم دې خبرې ته چې د ارواښاد ډاکټر محمد اعظم اعظم شاعري چې په خپل ځائے د قدر وړ شاعري ده خو د نوموړي د شاعرئ جاج که مونږ په

ريښتيني توګه واخلو نو ددۀ شاعري چې د نوي دور شاعري ده خو د غزل بنيادونه ئې روايتي دي ـ د خپلو مشرانو شاعرانو د شاعرئ د روايت پاسدار پاتې شوے دے ـ ځکه چې ددۀ په غزلونو کښې داسې څرګند ټکي نۀ تر سترګو کيږي چې مونږ ووايو چې د نوي غزل په لفظياتو کښې ئې څۀ اضافه کړې ده بلکې ښاغلي د خپل دور د مشرانو شاعرانو د کومو چې ما وړاندې ذکر وکړ د هغوي په پله روان ښکاري ـ لکه په لاندينيو شعرونو کښې چې ئې وينو :

ستا د زلفو پيچ و خم چې مې تقدير دے
زمانه راته په هر قدم زنځير دے
د اعظم د زړۀ حسينو ورشوګانو
د جهان د ښکليو څۀ ښکلے جاګير دے[4]

هر ادا نه ئې ښکاره د مرګ انداز دے
نه پوهيږم بيا د کوم ژوندون اغاز دے[5]

دود دستوري دي د صحرا له سترګو تېر کړي
څوک که ځي د لېونو د چمن سېر کړي [6]

د ډاکټر محمد اعظم اعظم صاحب دغه شعرونه که مونږ ګورو دغه ربښتيا هم ډېر په زړۀ پورې شعرونه دي خو په دې شعرونو کښې لفظي نوے والے نه تر سترګو کيږي ـ

رومانيت ، ترقي پسندي ، قامولي ، طبقاتي تضاد ، مزاحمت او جماليات هغه څيزونه دي کوم چې د نوي غزل نه بېلېدونکي توکي دي چې زمونږ زياترو غزل بولو شاعرانو چې تر اعظم صاحب مشران دي د هغوي شاعري د پورتنيو توکو مرکب ده او اوس که مونږ په دې بنياد د ډاکټر صاحب غزل څارو نو مونږ ددۀ په غزل کښې رومانيت ، جماليات ، ترقي پسندي او طبقاتي تضاد په اړه توکي له ورايه ښکاري چې په لاندينيو شعرونو کښې چې ئې مونږ وينو ـ

## ۱ رومانيت

چې قيصه مې د ژوندون څومره ترخه شوه
ستا د غم هره لمحه هومره خوږه شوه[7]

که خوشحالي دې راله رانکړله
ما دې غمونو ته هم شا نۀ کړله[8]

## ۲ جماليات

هر يې لاسه تصور ورته پسخېږي
شيش محل دے او که ستا رڼه ځواني ده[9]

ګله! ستا نازکې شونډې داسې بند شوې
د نسيم نرۍ وږمه پرې جوړ تمغه شوه[10]

## ٣ ترقي پسندي

نوې جوړې د وختونو تراني کړه
تيرې هيرې ، هيرې تيرې فسانې کړه[11]

سپرلي بدل شو خو دستور د خندا نوے نۀ شو
ګل په ګلشن ئې ولاړ ځيرې ګريوان هغسې دے[12]

## ٤ طبقاتي تضاد

زمونږ په سيمه سپرلي تل وي د زخمونو فصل
زمونږ ګلونه شي د نورو ګلدسته ملګرو[13]

په چمن کښې تخم څۀ شي او ګل څۀ شي
نوم د چا وشي او خاورې شي د چا نوم[14]

د نوي غزل په څلورو بنيادي حوالو رومانيت ، جماليات ، ترقي پسندي او طبقاتي تضاد مو د هغه د شاعرۍ دا بېلګې وړاندې کړې ـ خو له دې څخه به تاسو ته اندازه شوې وي چې په دې څلورو واړو حوالو هغه د خپلو مشرانو شاعرانو څخه د مضمون ، موضوع ، موادو او لب و لهجې په توګه نۀ دي بېل شوي بلکې د دوئي په پله يې پل ايښے دے او دغسې ئې د نوي غزل د بنيادي روايت ښۀ په نره توګه پاسداري کړې ده ـ چې مونږ په چټکۍ سره وئيلے شو چې ډاکټر محمد اعظم اعظم د نوي شاعرۍ په زړۀ پورې روايت پاسدار شاعر دے خو ښاغلي په مسلسله توګه په خپله هر غزل کښې د تغزل خيال ساتلے دے ـ همدغه خوبي دے

د غزل د شاعر په توګه راپېژندلے دے ـ د خپلې ليکنې په پايې کښې د ارواښاد ډاکټر محمد اعظم اعظم يو په زړۀ پورې غزل راوړم چې زمونږ لپاره هغه د فن او فکر د تخيل او تغزل يوه رڼه هنداره ده ـ چې د هغۀ ټوله ذهني ستړيا په ډېره ښۀ توګه پکښې انځور شوې ده ـ

د اول نه تر اخر ئې بار د ژوند په اوږو بار دے
د ازل ابد تر مېنځه ، غم زما د غاړې هار دے
د عشق باغ کښې مالیارانو ، د لمبو مخونه ښکل کړل
چا چې دا سيمه ګلزار کړه ، دهغو نصيبو نار دے
په سحر مئينه خلقه ! د سحر لارې تيرې دي
ژوند په هر پړاؤسنګسار دے ، وخت په هر قدم ناتار دے
د احساس زخمي نظر کښې ، هر يو ګل چې ازغے کيږي
دا لا څۀ رنګه ګلشن دے ، دا لا څۀ رنګه بهار دے
د مئين زړۀ نه چاپېره ، د رقيب سترګې پېرې دي
دا د مينې کور تالا دے ، خود چې غل ئې څوکيدار دے
چې د ګلو په پيالو کښې ، د شبنم څاڅکې شراب کړي
ددې زړۀ هغه ساقي دے ، ددې باغ هغه ماليار دے
د يادونو په ډيوو کښې تېل اعظمه په خلاصې دي
هر يو ستورے چې بيمار دے،کوم سحرته انتظار دے[15]

# حوالې


[١] شاهين پروفېسر ډاکټر سلمٰی، جديد نظم په پښتو کښې ،پښتو اکېډيمي پېښور، دوېم چاپ ٢٠١٢ء، مخ ٣٢٢

[٢] خليل حنيف، جنون او ژوندون، لومړے چاپ، ٢٠٠٨ء، مخ ٣

[٣] حسرت زبېر، جنون او ژوندون، سريزه، لومړے چاپ، ٢٠٠٨ء، مخ ٣٠

[٤] اعظم ډاکټرمحمداعظم، جنون اوژوندون، سريزه،لومړے چاپ ٢٠٠٨ء، مخ ٧٥

[٥] همدغه، مخ ١١٤

[٦] همدغه، مخ ١١٧

[٧] همدغه، مخ ٤٠

[٨] همدغه، مخ ٤٩

[٩] همدغه، مخ ٦٥

[١٠] همدغه، مخ ٤٠

[١١] همدغه، مخ ٤٥

[١٢] همدغه، مخ ١٦٧

[١٣] همدغه، مخ ٢٢٧

[١٤] همدغه، مخ ٢٠٠

[١٥] همدغه، مخ ١١٥